**د دکتور محمد اشرف غنی دفتر**

نیټه: ۱/ وری/۱۴۰۳

شلم پودکاست

## بشري پانګه «لومړۍ برخه»

داود جنبش: ټولو اورېدونکو او د پودکاستونو د دې لړۍ مینوالو ته درناوی وړاندې کوم. په دې خپرونه کې ولسمشر محمد اشرف غني د هیواد د ارزښتونو، وړتیاوو او پیاوړتیاوو په اړه خپل اندونه او نظرونه شریکوي. این برنامه را من داود جنبش اجراء میکنم و تشکر از شما که تا الحال با ما استید. ډاکتر صاحب غني خپلې خپرونې ته ستړي مه شئ.

دوکتور غني: بسم الله الرحمن الرحیم، له تاسې نه مننه او له ټولو اورېدونکو او وطنوالو نه مننه او ټولو وطنوالو ته، خویندو او ورونو ته زما تاوده سلامونه.

داود جنبش: مخکې موږ د پېړیو په اوږدو کې تمدني میراث لنډ وکوت، اورېدونکي ورسره بلد دي، حافظه کې به یې پاتې وي. اوس لاره دې ته جوړه شوې چې د دغه میراث په اساس باندې، کومې وړتیاوې چې راجوړېږي، هغه وڅېړو او د دغو وړتیاوو یوه مهمه برخه یا بېلګه هغه څه دي، چې یوازې د انسان له وجود سره مخامخ رابطه لري او اوسنیو اصطلاحاتو کې ورته بشري پانګه وایي. غوښتل مې په دې وپوهېږم چې له دې نه منظور څه دی؟ یوازې انسان دی، که د هغه زده‌کړې دي؟ تخصص دی یا دواړه دي، یا نور څه دي؟

دوکتور غني: لومړی د پخواني بحث په ارتباط باندې، انساني پانګه هغه خویونه، لیدلوری او عادتونه دي، چې انسان ته د ښه او بد تشخیص او په ټولنې کې د همغږۍ او ګډ ژوند امکان برابروي. په دویمه معنی کې، هغه پوهې او تجربې دي چې د هغه په اساس یو انسان په خپل اقتصادي نظام کې، سیاسي نظام کې او ټولنیز نظام کې، ګډون کوي. او درییمه برخه یې هغه تخنیکي پوهې دي، چې د بشریت په یو خاص پړاو کې، شرایطو ضروري کړي دي او یو ملک او یو هیواد باید د هغه په اساس باندې، ځان سمبال کړي؛ نو ترکیب دی. او هدف دا نه دی چې تنها د مثال په توګه، یو انجنیر یا ډاکتر یا ژبپوه روزئ، بلکې زموږ په شرایطو کې باید دا هم یو مسلمان او یو افغان وي چې په خپله تمدني پانګې باندې او په خپل ملي وحدت باندې نظر ولري او د هغه لپاره، خپل ټول ولس د خپل ځان یوه برخه وګڼي او ځان د خپل ولس یوه برخه وګڼي.

داود جنبش: غواړم دغه برخه لږ څه اورېدونکو ته نوره هم روښانه شي، انسان پخپله پانګه ده، بې له دې چې تحصیل وکړي که نه؟ او که تحصیل مهم دی، د دغې پانګې په جوړولو کې یې ونډه څومره ده؟

دوکتور غني : انسان د فرد په حیث باندې او د خدای ﷻ د مخلوق په حیث باندې، خپله یوه پانګه ده او ټول قرآني آیات او زموږ لوی تمدن په دې باندې درېدلي دي. او دلته یوازې مقصد نران نه دي، مېرمنې [هم] دي. دومره احادیث او دومره بحث چې په مېرمنو باندې قرآنکریم کې شوی، په بل دین کې نشته، نو لومړی معیار انسان دی.

دویم د انسان پوهه، یوازې په تعلیم پورې تړلې نه ده. دلته تجربه ده، حس د بیان دی، فهم دی، قضاوت دی او له ټولو نه [مهمه]، د تعهد خبره ده. زموږ ډېر مشران دي چې د ټولنې په جوړښت کې ډېره عمده برخه لري، اما مکتبي سواد نه لري. دوی یوه ستره بشري پانګه ده، ځکه چې د مشکلاتو په حل کې، د ټولنې د نظام په تداوم کې، او یو بل سره د همکارۍ د شرایطو برابرولو کې، ستر رول لري.

تخنیکي برخه چې تعلیم دی، ځکه لازمي ده چې دا که ټکنالوجي ده، که معاصر علوم دي... دا ټول د یوې ټولنې د پرمختګ لپاره او د یوې ټولنې د هوسایۍ لپاره، ضروري شوي دي، اما دا د انساني ارزښتونو په چوکاټ کې دي، نه دا چې دا ارزښتونه سرچپه کړي، او انسان چې د خدای ﷻ مخلوق دی او اشرف‌المخلوقات دی په نورو مخلوقاتو کې، بیا په یوه وسیله باندې بدل شي.

داود جنبش: بیایید یک کمی مکث بر تعلیم و تحصیل، حداقل به عنوان یک بخش این پروسه، داشته باشیم. فکر میکنید تعلیم و تحصیل یک روند یک جانبه است؟ چند جانبه است؟ یا چند بُعدی است؟ به این معنی که در بعض جا ها تعبیر این است که از معلم به متعلم یعنی از تهیه کننده دانش به گیرنده دانش میرود، آیا سرچپه این هم صدق میکند؟

دوکتور غني: من فکر میکنم که این نظریه بیکه، تعلیم یک‌جانبه است، یکی از میراث های بد قرن نوزده است. به این معنی، که باوجود دولت های مرکزی بسیار قوی در اروپا، و بعضاً در تشکیل بیروکراسی ها، تاکید سر یک نوع خاص دانش صورت گرفت. دانش شبکه یی، که اساس دانش را در قرون گذشته، خاصتاً در عصر طلایی اسلام تشکیل میداد و همچنین تمدن های دیگر و بعضاً امروز باز هم در قرن بیست‌ویک دانش نه تنها از نگاه انترنیت که شبکه است، بلکه به صورت عموم دوباره به شکل شبکه یی بدل شده، معنی وسیع تر و چند جانبه تر را میدهد. محور، فرد، تنها نیست. اگر از دیدگاه فرد ببینیم، فرد بدون جامعه یک چیز مجزی است، و بنابر این به وحشت بدل میشود، اما در ماحول یک جامعه تجربه، افهام و تفهیم، قضاوت، تعهد، ایمان و عقیده یک زندگی مشترک، مطلق لازم و ملزوم یک دیگر استند. تعلیم به ذات خود موجب قضاوت خوب نمیشود. تجربه است که تعلیم را تعمیم میدهد و مبدل به دانش میکند، که بر اساس آن قضاوت ابعاد مختلف را مدنظر گرفته بتواند و هدفمند باشد. از این جهت، ضرورت اساسی ما اینست که نظام های تعلیمی ما و تحصیلی ما، باید متعلم محور و محصل محور باشد. اداره، یک وسیله است، نه هدف. اگر هدف ایجاد سرمایه بشری باشد، بنابرین باید وسیله تابع هدف باشد و از این جهت، هر چه متعلمین و محصلین ما در زندگی اقتصادی، اجتماعی و سیاسی به شکل منسجم سهم داشته باشند و از نزدیک ببینند و فکر خود را رشد و نمو بدهند، به همان اندازه موجب قضاوت بهتر و همکاری بیشتر شده میتوانند.

داود جنبش: البته بعداً فرصت انشاءالله پیدا خواهد شد که بخش‌های مختلف این، از جمله نقش تجربه و مسایلی از این قبیل را بیشتر بررسی کنیم. تر کومه چې ماته څرک لګېدلی شي استاده، زموږ ښوونځی جومات و او زموږ ښوونکی یا معلم ملا و، پېړیو کې همداسې خبره وه، حتی زما خپله یادېږي کله چې زه لومړی ځل مکتب ته لاړم جومات و هغه؛ ولې وروسته د دواړو لار بېله شوه او دواړه ظاهراً په تقابل کې راغلل، هغه موثر عوامل څه وو چې دا کار وشو؟

دوکتور غني: لومړی له دې نه چې دویمې برخې د پوښتنې ته راشو چې ولې بېل شول؟ د افغانستان معاصر ملي کلتور تر ډېره حده پورې، د مدارسو د فارغانو نتیجه ده. ملک الشعرا قاري او ملک الشعرا بیتاب ته که وګورو، په ادب کې او نور ډېر نومونه دي؛ که مولوي صاحب احمد جان خان الکوزي نه تر الفت صاحب، بینوا صاحب او نورو ادبي ستورو ته وګورو؛ که په تاریخ کې فیض محمد کاتب او حبیبي صاحب او استاد غبار، استاد رشاد او نورو ته وګورو؛ دا ټول د مدارسو فارغ‌التحصیلان وو. دوی وو چې ملي نظریات یې وړاندې کړل او زموږ د ژبو په بدلون کې یې ډېر ستر رول درلود.

دویمې برخې کې هم که وګورو چې تر ۱۹۷۸ پورې، د ثور کودتا پورې، موږ داسې څېرې لرو لکه ډاکتر صاحب روان فرهادي، پوهاند بهاءالدین مجروح او موسی شفیق صاحب، چې د عنعنوي جومات تحصیل او عالی‌ترین اسلامي او غربي تحصیل یې سره یوځای کړل او داسې آثار یې ولیکل چې واقعاً پېړیو کې به انشاءالله تعالی دوام وکړي.

بله برخه دا ده چې باید دا نظر کې ونیسو، چې د مکتب فضا اسلامي او ملي وه. عقاید په هغه دوران کې چې زه ابتدایي مکتب کې وم یا ثانوي کې او بیا لیسې کې، یوه ډېره مهمه برخه وه او هم ملي فرهنګ. بدلون کوم وخت کې راغی؟ د بدلون یو عمده عامل، د ثور کودتا وه او د هغه نتایج وو؛ اما په څنګ کې دوه حرکتونه شروع شول، چې یو ایران خوا ته زموږ د یو قسمت وګړو تګ و، چې د ایران په مذهبي حلقو کې، خاصتاً قُم کې، مشهد کې او نورو ځایو کې وروزل شول او دویم پاکستان ته، همدغه رقم د پاکستان مدرسو کې یې ګډون و. دا [بهیر] چې د یوې ویالې غوندې و، زموږ د مقدس جهاد په دوران کې، د لوی مهاجرت په دوران کې، په یوه سیلاب باندې بدل شو. او ځکه چې امکانات د عصري درسونو همزمان د مدرسو، افغان مهاجرینو ته برابر شوي نه وو، او خاصتاً زښت ډېر خندونه په منځ کې وو، سلها زره افغانان په دې کې وروزل شول او نتیجه د دې، بېرته دا شوله چې دا واټن پراخ شو او په یوه سیاسي واټن باندې بدل شو. ځکه د نصاب په جوړولو او دې کې، دلته خاصه توجه ونه شوله.

او بله برخه د دې دا وه، چې کیفیت د کمیت سیوري لاندې لاړ. احصائیه به تکرارېده چې دومره میلیونه پېغلې او ځوانان په مکاتبو کې دي، اما د دوی سویې باندې او دا چې واقعاً څو فیصده ددوی، د لومړني سواد خاوندان وو، هغه باندې کافي توجه نه وه شوې؛ نو ځکه دا واټن په یوه سیاسي واټن باندې بدل شو، چې له یوې خوا نه د دې په ځای چې دواړه د یو بل متمم وګڼي، او هغه تعریف د بشري پانګې چې ما په ابتدا کې تاسې ته وړاندې کړ، چې خویونه دي، عادتونه دي، صفتونه دي، ظرفیتونه دي، تجارب و دا... دي؛ دا په دې بدل شو چې هغه شی چې موږ ورته د ګیدړ قباله وایو، د ګیدړ په قبالې باندې بدله شوه او له بلې خوا نه دا شبکې او د دې تاثیرات سره یو نه شول.

داود جنبش: دا هم ډېر لوی بحث دی نورې پوښتنې کېدای شي، خو د دې لپاره چې نورې پوښتنې لرمه، نو همدلته به دا پرېږدو. مخکې په عمومي ډول په تېرو خپرونو کې وغږېدو چې اسلام ښايي، د اديانو په منځ کې واحد دين وي، چې پرله پسې په زده‌کړو باندې ټينګار کوي، پرله پسې! او د زده‌کړو مخالفت يې نه دی کړی، حتی د علم په غوړولو کې يې خپله فوق‌العاده ونډه درلودلې ده. دغو لاربښونو زموږ په کادرونو باندې په افغانستان کې مثلاً تاسې باندې، د پوهې د مدارجو په لټولو کې څه اغېز کړی؟

دوکتور غني: دا مه هېروئ چې لومړی جمله، د خدای جل‌شانه د حضرت جبرائيل له خوا، حضرت محمد ﷺ ته [دا] وه، چې «د رب په نامه دې ولوله». دا ټينګار دوامدار دی. ماته خاصتاً حديث نبوي چې د علم پسې چين ته لاړ شه – هلته چين ډېر لرې ښکارېده او لرې و او د همدې په اساس باندې، زما برداشت دا و چې هېڅوک ځان ته عالم نه شي ويلی، مدارج دي. او د نړۍ کتاب يو خلاص کتاب دی چې د لوستلو طريقه يې بايد سړی زده کړي. زه ډېرې برخې د نړۍ کې وګرځېدم، او دليل مې دا و چې په خپلو سترګو وګورم، کتنه وکړم، ولولم او بيا يې وسنجوم او ارتباط يې بېرته خپل وطن سره [ټينګ کړم]. ما هېڅ وخت هېر نه کړل چې افغان يم او مسلمان يم. زموږ تمدن خاصتاً په هغه طلايي دورې کې، ځان باندې ډېر لوی اعتماد درلوده، نو ځکه پخواني اديان يې خپل وګڼل او ټول لوی تمدنونه يې، په يو تلفيق کې راوستل. دغه ليدلوری که موږ ولرو، موږ له عُقدې نه وځو.

د ۱۹مې پېړۍ او ۲۰مې پېړۍ بد ميراث موږ ته، او اوس ۲۱ مې پېړۍ کې، دا دی چې، هغه باورمندي مو چې په ځان باندې درلوده، د يوه اسلامي تمدن په حيث باندې، کمزورې شوې او دا بايد بېرته قوت ونيسي، چې موږ د قرآن شريف په احکامو باندې او په روايت باندې، په واضح توګه پوه شوو. موږ يې آيات اورو، اما ټولې فلسفې باندې يې بحث کم دی، ځکه دا ټول دويم لاس، دريم لاس، څلورم لاس روايت په اساس باندې، بيا له يو عينک نه ليدل کېږي او دا [پوهه] ضرور ده، ځکه د خدای جل‌شانه هدايت دی چې بايد قرآن شريف باندې پوه شئ، د ټولو کايناتو سِرونه پکې پراته دي.

او بل، علم محدود نه دی، هميشه بايد ځان سمبال کړو او وختې چې نوي فنونه، نوې طريقې يا نوې ټکنالوجی راځي، دا طبيعي ده چې بايد ځان ور باندې پوه کړو. نو اساس يې لرو، ليدلوری د تاريخي له نظر نه لرو، اوس بايد بېرته په هماغه باور باندې چې چينايانو ځان بېرته عيار کړی، چې خپل تمدن باندې باورمند دي، او نړۍ کې په ستر [ځواک] باندې اوښتي دي؛ يا هندوستان؛ اسلامي نړۍ کې اندونيزيا او ماليزيا او امارات او نور ځايونه دي، په هغه طريق باندې مخکې لاړ شوو.

داود جنبش: تشکر استاد، يکی دو سوال را ميخواهم در مورد تحصيلات عالی در اين جا داشته باشم، که همين روند تکميل شود. تاثير محيط اکادميک بر تعيين جهت حرکت در بخش تحصيل چيست؟ مثلاً تجربه شما از زمان تدريس در پوهنځی ادبيات پوهنتون کابل در اين زمينه چه بود؟

دوکتور غني: ماحول اکادميک يا محيط اکادميک تاثير نهايت زياد دارد، چون اين ماحول يک تاثير دوامدار سر ذهن ميگذارد. تجربه شخصی من در آن دوران اينست، که مهمترين آموزګارهای من در قسمت افغانستان‌شناسی، محصلين

جوانی بودند که سالانه من شرف خدمت به آنها، به حیث استاد مشاور داشتم. چون اینها در آن وقت یک تیزس نوشته میکردند، در کمک کردن به ترتیب آن، من افغانستان را به قسمی شناختم، غیر ممکن بود که به طریق دیگر [بشناسم]. و در ظرف دو سال، یک شبکه زیادتر از چهار صد معلمین در کشور موجود بود، که من به صورت دوامدار در رفت و آمد با اینها بودم، و هر سال تعداد این ها زیادتر میشد. اما نقطه دیگر آن، اینست که آماده‌گی هایی که، و توانایی هایی که باید در یک محیط اکادمیک موجود باشد و اخلاق اکادمیک، که یک اخلاق صبر و حوصله و تفاهم است؛ نهایت ضروری است و موجودیت این در شرایط مختلف، در ابعاد مختلف تغییر کرده. در دورانی که در پوهنتون کابل، من به حیث یک استاد نهایت جوان شرف خدمت داشتم، محیط به مراتب مساعدتر بود، تا وقتی که من به حیث رئیس پوهنتون کابل، دوباره به محیط پوهنتون رفتم.

داود جنبش: زما خپله د محصلی تجربه او یو څه موده د استاد د اسیستانت تجربه دا ده چې، دغه درسي چاپېريال، سترې‌کوونکی و، مثلاً استاد به راغی، نهه میاشتې مسلسل به يې یو کتاب په لاس کې و، نوټ به يې ورکاوه، موږ به لیکه. بیا دغه میراث ماته راپاتې شو، ما تقریباً دغسې یو کار کړی دی. دغه سیستم ستاسې له نظره، د بشري پانګې جوړولو ته جوړ و؟ یعنې یوه تعلیمي کال ته، نهو میاشتو ته دغسې خسته‌کوونکې، سترې کوونکې کار ته اړتیا وه که نه؟

دوکتور غني: نه، نه وه بالکل! هغه دلیل چې زه دا محصلین خپل استادان ګڼم، ځکه وختې چې زه راغلم، اول... اجازه ده چې یوه کیسه درته وکړم؟

داود جنبش: مهرباني وکړئ.

دوکتور غني: لومړی درس زما د فلسفې و. ما لوستې وه فلسفه معلومدار، مګر د هغې ځنګ کې ما انسان پېژندنه لوستې وه. زه لاړم صنف ته، نو زښت ډېر زحمت مې ایستلی و، ابعاد مې تشریح کړل او معلومدار ما نوټونه نه درلودل، لکه نورو غوندې. په آخر د صنف کې ټول چوپ وو، هېڅ برخه يې وانخیسته. نو ما وویل خبره څه ده؟ څو نفره جګ شول ویل يې: تاسې ټول راغلي يئ، موږ ته په نورو خبرو باندې غږېږئ، ولې هېڅوک دې ته تیار نه دی چې موږ ته په دې وطن باندې وغږېږي؟ ما ویل سمه ده. زه چې سبا راغلم، لومړی پوښتنه مې دا وه چې د اوړو قیمت څومره دی؟ هلته دوه برخې وې: یو برخه هغه محصلین وو چې له اطرافو نه راغلي وو، له ولایاتو نه، ولسوالیو او دې نه... او یوه برخه دا وو خاصتاً مېرمنې، پېغلې چې له کابل نه راغلې وې، کابلیانو راباندې وخندل، چې موږ ادبیاتو پوهنځي کې یوو [موږ ته يې څه چې] د وړو قیمت څه دی. اطرافي محصلین یوواري ژوندي شول. د دغه په اساس باندې ما د افغانستان پېژندنې بحثونه شروع کړل. دا ډېر په زړه پوری وو او د دې لپاره چې موږ وکړی شوو لیکنې وکړو، پوهېږئ جنبش صاحب موږ له څه شي نه شروع وکړله؟ د جملې نه، پاراګراف نه او بیا د یوې مقالې نه.

داود جنبش: دغه برخه زموږ ډېره کمزورې وه.

دوکتور غني: دغه برخې کمزورې وې، ځکه ترتیب دا شوی و چې نوټونه [يې ورکول]. او له بدې‌مرغې نه چې زه کابل پوهنتون ریاست ته راغلم، هماغه نوټونه چې زموږ په دوران کې پخو استادانو درس ورکاوه، لا یا هماغو استادانو

خپله تدریس کاوه یا د دوی شاګردانو د هغو نوټونو ته دوام ورکاوه. دا د بشري پانګې موجودول نه و، دا یې محو کول و. زموږ په پوهنتوني درسونو کې خاصتاً په بشري علومو کې، او سیاسي علومو کې چې د حقوقو فاکولته او دا و... دا ډېر زیانمن وو، اما بله برخه دا وه چې هغه دوران کې، لا هم د انجنیرۍ پوهنځی، د کرنې پوهنځی او ننګرهار کې د طب پوهنځی یا کابل کې د طب پوهنځي، لوړ معیارونه درلودل؛ نو دواړو برخو باندې باید په تفصیل وغږېږو.

داود جنبش: تاسې د پوهنتون د ریاست خبره وکړه، چاپېریال بېخي د هغه وخت نه چې تاسې استاد وئ، اوښتی و، محیط ترینګلی شوی و، په اصطلاح متشنج و. په هغې برخې به یې نه غږېږو، خو حتماً به دا پوښتنه راځي چې، تاسې د دغه تدریسي سیستم د اصلاح لپاره څه وکړل؟ یو شی چې ما اورېدلي، وایي چې تاسې ځینې طرحې جوړې کړې وې، مثلاً د ذینفعې حکومتولۍ په نامه باندې، د دغې طرحې مقصد څه و؟

دوکتور غني: لومړی، ماحول مطلق بدل و. چې واضح یې یو مثال درکړم، پوهنتون نه دروازه درلوده نه دېوالونه. او واقعاً لیوني سپي او چرسیان او قماربازان د منطقې، ټول کابل پوهنتون کې راټول شوي وو او څوک ګرځېدای نه شوو. طریقه چې ما شروع کړله، ځکه ذینفع حکومتداري باندې راځو، زه په ژمي کې مقرر شوم، نو ټول ژمی ما استادانو سره په مشورې باندې تېر کړ. ځکه مخکې له هغه نه به ټول راتلل د پوهنتون د ریاست دفتر ته. بالعکس ما د لومړۍ ورځې نه ټولو ته اعلان وکړ چې زه به هر پوهنځي ته او هر دیپارټمنت ته بېل راشم. ټولو سره مې وکتل. بیا مې ټول استادان نظر په رشتې باندې او نظر د تحصیل په درجې باندې، د لیسانس خاوندان، د ماسترۍ خاوندان، د دکتورا خاوندان، دا ټولو سره ولیدل او ټول هدف د دې برخو دا و چې، پنځه لومړیتوبونه د استادانو له نظر نه وګورو. او مجردې چې په پسرلي کې محصلینو تشریف راوړ، هغه وخت په حدود د لس زره نفره وو، ما دا بحث ټولو محصلینو سره پېل کړ او دې تقریباً شپږ میاشتې دوام وکړ، هره ورځ به مو حدود د څلور سوه نفره لیدل. او ترتیب دا و چې دوی به په مېزو باندې شل شل نفره کېناستل، یو ساعت لپاره او پس له هغه نه به له هر مېز نه یو نفر استازی پنځه دقیقې غږېده، بیا لومړیتوبونه وو. په دغه باندې د پوهنتون فضا ټوله شوه او نتیجه یې دا شوله چې عالي شورا په دې لومړیتوبونو کار وکړ او یوه غوښتنه د دوی دا وه چې پوهنتون د دېوال ښتن شي. په دې اساس باندې، پوهنتون ټول شو او زما ریاست د پوهنتون کې عالي شورا فیصله کړې وه، که څوک پوهنتون منځ کې وجنګرېږي له یو بل سره، طردېږي. دوه نفرو دا کار وکړ، هر څه چې په ما باندې فشار راغی او عالي شورا ته دې خدای خیر ورکړي ودرېدو، پس له هغه نه د پوهنتون فضا بدله شوه.

همدغه رقم د کابل [پوهنتون] لیلیه له سلاح نه، له اسلحې نه او له زور نه تصفیه شوله. یوه عمومي فضا د باورمندۍ راغله، ځکه هر وار چې به یو لومړیتوب نتیجې ته رسېده، ما بېرته ګزارش ورکاوه.

بله برخه چې بنیادي تغییرات وو، څو برخې وې چې وړاندېزونه وشول، اما له بدې مرغې نه، د حکومت له خوا ونه منل شو. یو دا و چې تشکیل باندې چې هم پوهنځي دي هم دیپارټمنتونه، یوه کره کتنه وشي، ځکه هم پوهنځي هم دیپارټمنتونه په سلیقې باندې جوړ شوي وو. او دویم، د پخواني [وخت]میراث و، د یوه لیدلوري نتیجه وه چې هغه شرایط بدل شوي وو، څلویښت کاله بعد.

دویم یې دا و چې باید یو مالي اساس وي، وړاندیز زما ډېر ساده و چې پوهنتون په یوې تصدی باندې بدل شي، ځکه ډېر، خاصتاً تخنیکي استادان د پوهنتون، تلل باندنیو موسسؤ ته، هم انجیوگانو ته، هم بین المللي موسسؤ سره یې بعد له وخت نه کار کاوه، د دې په ځای چې د پوهنتون په منځ کې اوسي. او شاگردانو خاصتاً لیلیې کې دوه ورځې یا درې ورځې د ختو کار کاوه او د دې امکان و ډېر په آسانه باندې، چې کابل پوهنتون په کال کې پنځه میلیونه له پیل نه او تر شل میلیون ډالره پورې وگټي.

بله اساسي برخه دا وه چې، ما غوښتل چې یو صفري کال، یو عمومي کال منځته راشي چې د هغه اساس باندې سویه چې د محصلینو له مختلفو ولایاتو نه، ولسوالیو نه او خاصتاً د جنگ او د مهاجرت په شرایطو کې وو، موږ یو عمومي اساساتو باندې نتیجې ته ورسېږو، او پس له هغه نه ما غوښتل چې د دې په ځای چې یوازې د ابتدا د شلمې پېړۍ تقسیمات وشي، د انجنیري مثال په توگه، چې اقتصاد یې په څنگ کې پوه شي، یا په لیکلو باندې، لوستلو دې باندې، په ژبو دې باندې پوه شي؛ چې نصاب کې ځینې عمومي تغییرات راشي چې موږ وکړی شوو د ملي وحدت او د دې احساس، چې ټول د یو افغانستان وگړې یوو او حقوق لرو، اما عین حال کې وجایب لرو؛ د دې ترتیبات وو.  د دې ټول اساسات په هماغه دورې کې ټول شول، ځینې یې پسته عملي شول، اما ځینې یې عملي نه شول.

داود جنبش: خوب، مخصوصاً وقتی که مسئله به محصلین ما رابطه میگیرد، در کدام قسمت تحصیل ما و محصل ما نسبت به تحصیل و محصل خارجی یا از کشور های دیگر برتری دارد و در کدام جا پای این سیستم ما می لنگد؟

دوکتور غني: محصلینی را که در صنف اول پوهنتون تشریف می آورند، از نزدیک مطالعه کنید، چند خصوصیات بسیار بارز را پیدا میکنید. خصوصیت اول آن اینست، که یک عطش بسیار بزرگ برای تحصیل و ارتقای فکری وجود دارد. خارجی هایی  که در پوهنتون کابل برای لکچر دادن ویا هم بحث می آمدند، تعجب میکردند که تا چه اندازه محصلین افغان قوت طرح سوالات بنیادی را داشتند، و هم اداب آنرا.

دوم ظرفیت کار جمعی بود. مشوره ییرا که من در پوهنتون کابل انجام دادم، اگر در پوهنتون جانز هاپکنز یا کولمبیا یا هارورد یا برکلی که من در بعضی از این ها تدریس کرده ام، در برکلی و جانز هاپکنز و در هارورد پروگرام های تحقیقی و اینها داشتم، و در کولمبیا فارغ التحصیل اش استم؛ ده ها میلیون دالر به کار میبود، اما تمام این را در پوهنتون کابل، من تنها با یک نفر مشاورم انجام دادم. و نتیجه این بود، که محصیلن واقعاً میخواستند سهم بگیرند و در کار جمعی این محصلین بینظیر بودند. و قسمت دیگر این فکر مستقل است. اکثریت افغانها و خاصتاً در آن دوران، اولین افراد خانواده خود بودند، که برای تحصیلات عالی می آمدند، اما فکر اینها واقعاً ناب بود. فکر بسیار سازنده داشتند و میتوانستند تحصیل کنند، چون نتیجه یک نظام خشک نبودند و به علاقه خاص به پوهنتون تشریف می آوردند.

حال موانع را ببینید. تقاعد در نظام تحصیلی افغانستان از بین رفته بود و نه تنها از بین رفته بود، بلکه یک نظام ایجاد شده بود که به سیستم های خانوادگی مبدل شده بود. شیوه تدریس مشکلات بنیادی داشت. این سال ۲۰۰۵ است، حتی در پوهنځی انجنیری کابل کتاب وجود نداشت، و خود پوهنځی انجنیری، هربار که باران می شد یا برف می شد، زیر آب می بود. حداقل زیربنا وجود نداشت. رشته‌بندی به اساس اولویت های ملی تنظیم نشده بود، و مشکل

بنیادی دیگر در این بود، و عام تر شد بدبختانه، که کمیت بر کیفیت ترجیح داده شد. یکباره گی یک رسم بوجود آمد، که در هر ولایت افغانستان باید یک پوهنتون موجود باشد، و این به حیث امتیاز تلقی شد. ضرورت واضح است، اما اگر کیفیت را قربانی کنید، این خدمت نیست.

در پهلوی این، پراکندگی تحصیلات خصوصی بود، که به ده ها پوهنتون به نام «پوهنتون» اجازه داده شد، اما ظرفیت بررسی و توجه به کیفیت باز هم نبود. مخصوصاً در بخش طبی، بطور مثال در یک منزل خصوصی یک پوهنځی طبی را اجازه میدادند.

نقطه دیگر، کشمکش های هویتی و کشاندن محصلین به برخورد های سیاسی کوچک، که قطعاً از نگاه آینده شان بی معنی بود؛ بناءً اگر جمع بندی کنیم: در صنف اول یک استعداد خارق‌العاده را در بین جوانان میبینید، در صنف چهارم فیصدی که استعداد شان حفظ شده، به عُقده یا دید محدود مبدل نشده، بدبختانه کم بود؛ و این مشکل بنیادی بود که ما به آن دچار بودیم و هنوز هم بدبختانه به آن دچار استیم.

داود جنبش: یوه لنډه اشاره دې رشته بندیو ته وشوه، غوښتل مې دې برخې کې لږ ډېر پاتې شوو، ځکه چې زما خپله تجربه پوهنتون کې د زده‌کړو او وروسته د تدریس دا ده چې، مخصوصاً د روسانو له راتګ نه وروسته، ادبیاتو پوهنځی یې درې ځلورو برخو باندې ووېشه، ادبیات شوو، جغرافیه یې جیولوجۍ سره یو ځای کړه، ځمک پېژندنه شوه، تاریخ او نور یې راوستل علوم اجتماعي یې کړل، علوم اجتماعي یې بیا تقسیم کړل، ژورنالیزم یې ترې را وویسته؛ بیا په ژورنالیزم کې مثلاً، زموږ یو استاد په امریکا کې کتابداري لوستلې وه او کتابدارۍ ته هېڅ پوهنځی نه و، هغه یې راوسته ژورنالیزم کې یې استاد کړ. دا د پوهنځیو وېشنه او د دیپارتمنتونو وېشنه، په افغانستان کې د کادري سیاست د جوړولو لپاره څومره ګټوره وه؟ یعنې کادرونه یې روزلی شوو که نه؟

دوکتور غني: نه، بالعکس! زما ټول وړاندیز د هماغه یو کال په ختم کې دا و چې، دا ټول سلیقوي برخوردونه لرې شي، او تعداد د پوهنځیو محدود شي او پوهنځیو منځ کې باید همکاري راشي. هر دیپارتمنت، جنبش صاحب تاسې په خپلو سترګو به لیدلي وي، په یو ملوک الطوایفی باندې بدل شوی و. د مثال په توګه بهترین یو نفر به، یو افغان به راغی، له تحصیلاتو سره، اما ځکه چې باید دا د دیپارتمنت له لارې نه راغلی وای، یو واري به یې مخه نیول کېده. او رشته‌بندي اساس یې غلط ایښودل شوی، او یو هجوم و د مثال په توګه په حقوقو باندې، ولې؟ او نتیجه د دې څه وه؟ هغه کتابونه مو که لیدلي وای، ټول زاړه وو او د حاکمیت د قانون له نظر نه، څارنوال به راغی د حقوقو له پوهنځي نه؛ قاضي به راغی د شرعیاتو له پوهنځي نه؛ په حال کې باید دا سره یو وای. او ابعاد د دې په ټولو برخو کې وینئ.

بله دا وه چې، ځکه چې قانون اساسي کې دا و چې وزیران او دا باید شهادتنامه ولري، ساختګي شهادتنامو جوړولو او دا... په یو بل رسم باندې [بدل] شول، یا د ماستریو د دوکتوراګانو ورکول. آیا موږ واقعاً د دې ظرفیت درلوده چې دوکتورا ورکړو؟ هره برخه د دې حساب غواړي، ځکه که میزان نه وي، که تله نه وي او په واضح توګه پوه نه شئ چې دا د څه لپاره روزئ، [ګټه نه رسوي].

بله برخه زښته ډېره اساسي ده جناب جنبش صاحب، فلسفه د پوهنتون په دې وه چې دوی به لاړ شي اداري ته، دوی به مامورين  شي، په حال کې چې بايد فلسفه د پوهنتون په دې بدله شي چې دوی څنگه اقتصادي وده راولي؟ او دولتي خدمات څرنگه په موثرترينه توگه دوی اجرا کوي، نه دا چې دوی په يو فشار باندې بدل شي چې هره ورځ د مامورينو تعداد ډېر شي. او بل واقعاً څه رقم ظرفيت په کار دی؟ زه بيا يو مثال درکوم. انجنيري پوهنځي کې، اکثريت د محصلينو غوښته چې ساختمان ولولي، دې ته تيار نه وو چې برق په رشتې کې درس ولولي، اما گورئ چې افغانستان ته برق څومره حياتي دی، اما څومره ورته سپک کتل کېدل. يا کرنې ته... او بل که اداري ته ځئ، د اداري ظرفيتونو ضرورت څه دی؟ او په څه توگه؟ په څه مدارجو باندې ځئ؟ او ټول اداري نظامونه په تجربې باندې استوار دي، يوازې تحصيل باندې استوار نه دي؛ نو دلته ضرور ده چې دا ټول سره وکتل شي، اما دا ټول له بدې مرغې نه، يو بل نه بېل وو او بېل وساتل شول.

نو نتيجه گيري مو بايد دا وي، چې زموږ لوړو تحصيلاتو باندې يوه اصولي کره‌کتنه په کار ده، چې راتلونکي خوا ته وگوري او محصل‌محوره شي. او استادانو ته هغه زمينه برابره شي، چې په واقعي توگه هم په عملي کارونو کې شريک شي او هم پوهنتوني محيط کې د گډو اخلاقو او يو ترون پر اساس باندې، يو بل سره په افهام و تفهيم ورسېږي. داسې استادان هم ما ليدلي دي چې تيرې يې راخيستې وې يا خبنتې يې اخيستې وې او په دهليزو کې د يو بل په سرونو باندې وهلي وو، نو دوی به د اخلاقو څه مثال شوي وای محصلينو ته؟

داود جنبش: و يکی دو سوال هم کوتاه در اين بخش از برنامه، در مورد تيوری های آموزشي؛ فکر ميکنيد که با توجه به آنچه که قبلاً شما گفتيد، [بين] دانش نظری يعنی Knowledge و دانش عملی يعنی Know how چه رابطه ی بايد وجود داشته باشد؟

دوکتور غني : رابطه بايد اساسی، بنيادی و بر اساس احترام متقابله باشد. مثال بسيار زنده اش زراعت است يا آبياری. درس تخنيکی ييکه يک متخصص زراعت ما در پوهنځی ميخواند، يا يک انجنير آبياری ما، با دانش عملی ييکه در طول قرن ها زارع ما يا مير آب ما داشت، بايد در تلفيق باشد. من يادم است، وقتی که قصر دارالامان را دوباره احيا ميکرديم، اين نسل سوم کسانيکه پدر کلان هايشان اين قصر را ساخته بودند، انجنيران را می آموختند که چطور سنگ های مرمر را نصب کنند، چون آن تجربه عملی بود و اين دو لازم و ملزوم يک ديگر استند. از اين جهت من سخت طرفدار تعليمات تخنيکی استم و هم طرفدار تعليمات تخنيکی در ضمن تحصيلات استم. يکی از پيشنهادهای من اين بود که در پوهنتون کابل محصلين و استادان مشترکاً کمپنی‌هايی را ايجاد کنند، که ما بتوانيم حفظ و مراقبت تعميرات دولتی و اينها را انجام بدهيم و سيستم مشورتی را [به ميان بياوريم]، چون در اين بخش با تجربه عملی، با ديد عملی تعليمات نظری، يک بُعد مطلق ديگری را پيدا ميکند. قضاوت نتيجه تجربه است، و اشتباه يک نقطه طبيعی است، چون انسان کامل نيست. از اين جهت، از اشتباهات است که قضاوت خوب ايجاد ميشود و تصاميم به صورتی گرفته ميشود، و درک وسعت پيدا ميکند.

و از این جهت هم است، مسئله بیرا که در ابتدا هم شما ذکر کردید، مشکل تنها در بین ایجاد فاصله بین مسجد و مکتب نیست، بین تفکیک تعلیم یافته و غیر تعلیم یافته است. کلمه روشنفکر را من همرایش یک مشکل جدی دارم، معنی اش چیست؟ حس تفوق طلبی؟ آیا همین روشنفکرهای ما نبودند که باعث فجایع شدند، از نگاه دیدگاه محدود خود، فکر شان در کجا روشن بود؟ احترام به دانش فرهنگی ما، و تعهد برای ایجاد ثبات و رفاه، باید اصولی باشد که ما را با هم مرتبط بسازد. هر قریه افغانستان را ببینید، یک ریش‌سفیدش، یک کس که مورد احترام است، بیست سال یا سی سال گرفته که احترام را کمایی کند، در یک روز از دست داده میتواند، اما سال ها میگرید. و این تجربه ای است و این دانشی است، دانش عملی است، که این را باید در نظر گرفته بتوانیم. و این دانش عملی است که بار ها موجب نجات قریه ها، یا خانواده ها یا گروه های وسیع‌تر از این مملکت شده. و دانش نظری ما مشکلات جدی داشته و اگر سر این نقطه تلخ اعتراف نکنیم، و حدود دانش نظری را به صورت اساسی نسجیم، آینده نگر بوده نمی توانیم، و درس عبرتی را که از تاریخ باید بیآموزیم، به صورت درست نه خواهیم آموخت.

داود جنبش: بلې، استاده نړۍ په شدت سره پر مخ روانه ده او موږ یا ځای پر ځای ولاړ یوو، یا شاته ځو. مثلاً ما د ډاکټرانو ځینې نظریې چې په کابل کې اورېدلي دي، د معاصر طب سره چې نړۍ ورسره سر و کار لري، یا د انجینرۍ برخه کې، یا په نورو ټولو برخو کې، زموږ او د دوی ترمنځ، د نړۍ ترمنځ، پېړۍ پېړۍ واټن دی او دا لا ډېرېږي؛ فکر کوئ داسې تجربې د نړۍ شته چې سره د دې وروسته پاتې‌والي یې موږ راخیستلی شوو او تطبیقولی شوو؟

دوکتور غني: لومړۍ خبره بالکل، زه تاسې سره هم‌نظره یم په ډېر قوت سره، چې موږ په ځای درېدلی نشوو. په ځای درېدل معنی یې په ډېرې چټکۍ سره شاته تګ دی، ځکه اوسنی تحصلي نظام، د اوس او د راتلونکي ضرورتونه، پوره کولای نشي.

دویم، هو، قوي مثالونه شته که لومړي او دویم صنعتي انقلاب ته وګورئ، آلمان ډېر بېرته پاتې و. سکندنیویا چې نن ډېر پرمختګ لري، که د نولسمې پېړۍ ابتدا ته وګورئ، مخصوصاً هغه لوی انګرېز اقتصاددان او فیلسوف جان ستیوارت میل آثار په سکندنیویایي ممالکو باندې ولولئ، له اوسنی افریقې نه، له بدترین وضعیت نه یې، وضعیت بدتر و. اما دوی په پښو ودرېدل. او آلمان لومړی مملکت و چې تحصیل یې په یو مسؤلیت باندې بدل کړ. هلته مسؤل دي چې درس ولولي او بشري پانګې دوی په پښو ودرول. شرقي آسیا، سنګاپور نه نیولې تر چینه پورې... دا عجیبه ده، که ۱۹۹۰ ته وګورئ، ټول چین کې نه یوازې کمپیوټرونه نه وو، دا د حساب ماشینونه بې حده کم وو.

داود جنبش: روسیه هم دغسې وه.

دوکتور غني: بالکل.

داود جنبش: روسیه هم دغسې وه.

دوکتور غني: او ما چین کې له ۱۹۹۱ نه تر ۱۹۹۶ پورې...، زه یو درېیمه برخه د چین کې ګرځېدلی یم، اما په یو چټکي بدل شوو او نن ګورئ چې چیني کمپنی د کمپیوټر په برخې کې یا خاصتاً اوس مصنوعي پوهې باندې څومره پرمختګ

کړی. هند چېورباندې نخرې کېدلې چې دوی، دوه نیم فیصد نه په کال کې، امکان نه لري چې مخکې لاړ شي، ځان یې له ۱۹۸۰ نه، د بدلون په مسیر کې راوړ او نن گورئ چې یو چټکوالی لري چې ټولې نړۍ کې بېساري دی. مسلمانو هیوادونو ته، که اندونیزیا او مالیزیا ته وگورئ، دواړه په ډېره عظیمه توگه، خاصتاً اندونیزیا په دې اواخرو کې، په یوه بین‌المللي قدرت باندې بدل شوی؛ نو ضروري ده چې په دې باندې پوه شئ چې امکان د بدلون شته. جنوبي کوریا یې یو ډېر لوی مثال د بشري پانگې د تاثیراتو او دا... دی، ځکه جنوبي کوریا ډېر کم طبیعي منابع او ډېر لږ صنعتي منابع یې درلودل، وختې چې د شمالي کوریا نه بېل شو؛ اما دوی په یوې منسجمې طرحې باندې، واقعاً داسې پرمختگ وکړ. او بیا ویتنام ته گورئ، ما ویتنام کې هم کار کړی. لومړی وار چې ۱۹۹۴ کې لاړم چې نړیوال بانک کې دوی شامل شول، بېوزلي دومره ډېره وه چې حد او حدود یې نه درلودل، اما نن ویتنام په یو عظیم اقتصادي قوت باندې بدل شوی؛ نو واضح درسونه شته، خبره د دې ده چې له دې ټولو نه باید نتایج واخیستل شي او بیا یې په خپلو شرایطو باندې تطبیق کړو.

داود جنبش: و من از نظریات شما میدانم که شما به افغانستان‌شناسی یک ارزشی خاص قائل استید، در صورتیکه توصیه این باشد که، ما مثل کشور ها ییکه با وجود عقب ماندگی یک مسیر بسیار طولانی را، در یک مدت بسیار کوتاه پیمودند، از آن استفاده کنیم؛ در عین حال باید کشور خود را هم درست بشناسیم، چگونه یک تعادل بین افغانستان شناسی و وام گرفتن تجارب جهانی ایجاد کنیم؟

دوکتور غني: چگونگی اش سر این است جناب جنبش صاحب، که در قدم اول، یک تحلیل جهت تغییرات علمی، تکنالوژی، اقتصادی و سیاسی دنیا را ضرورت داریم. و در قدم دوم شناخت همسایه های خود را؛ این یک ضرورت است، اما در پهلوی این، پیش‌شرط قسمی که شما گفتید، شناخت واضح افغانستان است و هدف تمام این پودکاست های ما و شما اینست، که باید یک تحلیل روشن از خزاین پنهان افغانستان، فرصت های موجود و چالش های موجود داشته باشیم، که به اولویت بندی برسیم. و موضوع سوم ما اینست، که یک اجماع لازمی را، برای ایجاد یک روند آینده، که موجب تامین مشروعیت ملی، منطقوی، اسلامی و جهانی باشد ضرورت داریم؛ و بعد از آن با تاکید بر وحدت ملی، انسجام یک اراده قوی ملی برای تامین اهداف ۳۰۰ سالگی افغانستان به کار است. چون این تعادل است و در تعادل ضرورت این است، که هر افغان، هر متخصص افغان، هر کارمند افغان، و هر شهروند افغان، یک حداقل شناخت مشترک را داشته باشد، تا از برداشت های منفی و دیدگاهای کوتاه و بسته، بر اساس این که، همه ما لازم و ملزوم یکدیگر استیم، و زندگی یک بخش ما بدون بخش دیگر امکان پذیر نیست؛ به یک نتیجه واضح برای ایجاد ثبات و رفاه و بستن کمر ملی، برای تامین این اهداف به نتیجه برسیم.

داود جنبش: تاسې ۳۰۰ مه کلیزه د افغانستان یاده کړه. ۲۰۴۷م کال کې...، زه فکر کوم چې دا خپرونه د بشري پانگې دویمې برخې ته هم غځوو، په دې اړه به دوې پوښتنې ولرم، یوه به اوس وکړم، یوه به هغې خپرونې کې چې بله ورځ به خپرېږي ولرم. دلته په لوړو زده‌کړو په دې وغږېدو،... دغه ۲۰۴۷ کال ته د چمتوالي لپاره، په لړ کې یې د افغانستان عالي تحصیلات، لوړ تحصیلات څنگه تبدیل شي؟ څنگه واوړي چې افغانستان له دغه پلوه د نړۍ سیال کړي؟

دوکتور غني: لوړ تحصیلات باید په دې توګه واوړي، چې لوړی څه مو په کار دي؟ د دې لپاره چې افغانستان هوسا شي، لومړي ګامونه څه دي؟ دویم او دریم ګامونه؟ په دریو مرحلو کې.

دویم بین‌المللي تجاربو نه څه ګټه اخیستلی شئ؟ او په کومو رشتو کې یا شقونو باندې، باید زور واچول شي؟ چې د دې ظرفیت پیدا شي...، د مثال په توګه؛ آیا دا پټه خزانه، د افغانستان کانونه، د رشوت او فساد له لارې نه تباه کوئ؟ او په ارزانه یې خرڅوئ؟ چې څو جیبونه په کې ډک شي یا دا چې په یو شین صنعتي افغانستان یې بدلوئ؟ چې څو سوه کاله پس له هغه نه خلکو ته روزي ورسوي.

او بل کیفیت، کیفیت، کیفیت خبره ده، نه د کمیت. هر چېرې سلیقوي رفتارونه نه شي کېدی. کوم پوهنځي مو په کار دي؟ او د دې لپاره چې مساوات وي، د زونو په سطحه باندې، د مختلفو رشتو مرکزیت تامیندلی شي؛ اما دا په واضح توګه باید ووایو، چې هر پوهنتون، هر شي باندې تمرکز نه شي کولای.

بله یې دا ده، مخکې مې هم تاسې ته عرض کړی، ډیجیټل کېدل ضرورت دی، د ډیجیټل کېدلو بنیادي زیربنا څنګه ده؟ او پس له هغه نه، څنګه په هغه اساس باندې راځئ چې نور اهداف عملي شي؟ او خاصتاً د بودیجې، د عوایدو د مصارفو په برخه کې  آیا لومړیتوب دا دی چې بیا یو سیاسي کادر یا کادرونه چې په سیاسي ملحوظاتو باندې -مقصد مې واړه سیاسي ملحوظات دي- ټاکل شوي دي او حداقل توان د دې نه لري چې ځان ته مرسته وکړي، [پاتې لا دا] چې ولس ته مرسته وکړي؛ په هغه باندې مصارف کوئ؟ یا واقعاً حکومت په وسیله د دې بدلېږي چې توان ولري او خدماتو ته برابر شي؟

او بله برخه یې دا ده چې اقتصادي، حد اقل ۹ فیصده او تر ۲۰ فیصدو په کال کې وده ممکنه ده، دلته باید فکر منسجم شي او دا بې د لوړو تحصیلاتو نه، نشي کېدی.

داود جنبش: ډېره مننه استاده او ګرانو اورېدونکو، د بشري پانګې په اړه د پودکاست دا لومړی برخه همدلته بشپړوو. ژمنه مې وکړه چې بله به یې په راتلونکو ورځو کې ولرو، او اوس د دې وخت رارسېدلی چې هم له تاسې سره خدای په اماني وکړم او هم له خپل ګران مېلمه سره. ولسمشر محمد اشرف غني ستاسې له ګډون نه په دې خپرونې کې ډېره مننه.

دوکتور غني: ډېره مننه، یوه خبره په آخر کې به وکړم، چې لوړ تحصیلات بیا هم د قضاوت ځای نه شي نیولی او هغه افراد چې د قضاوت خاوند دي، باید لوړ تحصیلات ځان ته خطر ونه بولي. دا په ګډه کېدلای شي، په یوه لازمې اجماع کې د دواړو ګډون ضرور دی.

تل دې وي افغانستان، یشه سین افغانستان، زنده باد افغانستان.